لیکوال: پروفیسور مایکل زیمپله
سرچینه: لوماند ډیپلوماتیک

۲۰۱۵/۰۴/۱۵

افغانستان کې له طالبانو پرته سوله نشته

د شمالي آیرلنډ دبلفاست ښار د کوئینز په پوهنتون کې استاد او د۲۰۰۴ کال څخه تر ۲۰۰۷ کال په افغاانستان کې د اروپایي ټولنې دسفیر مرستیال
ژباړونکي: له انګلیسي څخه المانې ژبې ته نامتو خبریال ښاغلي نیلس کادرچکه او له المانې څخه پښتو ژبې ته سراج الحق ببرک زی ځدران

افغانستان کې دسولې شرایط هغه مهال پوره کیدای شي، کله په طالبانو کې هغه ځواک یا هغه مشران په دې بریالي شي، چې دوی په کابل کې له نوی حکومت سره دپخلاینې خبرې اترې، او جوړ جاړي ته چمتو والي وښیي. آیا دا سختدریځه اسلامپال به خپله وسله واله جګړه بس کړي او آیا دوی خپل ځانونه په یوسیاسي بهیر کې سمبالولې شي. دا خبره بیا په پاکستان کې حکومت پورې هم اړه لري.
افغان طالبان یوه خپلمنځي ستونزه لري. دغه ستونزه د هر وسله وال پاڅون یا مقاومت ټیپیک خاصیت وی: د هر وسله وال غورځنګ مشران تل هڅه کوي د پوځي توکو له لارې خپلې سیاسي موخې ترلاسه کړي. د وسله وال مقاومت په بهیر کې کله نا کله داسې وخت هم راشي، چې د غورځنګ واقعیت پالونکي او ریښتوني مشرانو ته د خپلې موخې ترلاسه کولو لپاره پوځي لار نوره سمه او معقوله لار نه بریښي. له همدې دوو بدو حالاتو ترمنځه په آیرلنډکې د آیرلنډجمهوري غوښتونکي،خپلواکي غوښتونکي وسله وال پوځ او په کولمبیا کې د فرس پارتیزان یا دکولمبیا انقلابي وسله وال مقاومت غورځنګونه مخامخ وو.
د افغانستان د جګړې څخه د وتلو لار دي پورې اړه لري، چې طالبان څه ډول غبرګون ښیي، دوی دا درک کړي چې جګړه د حل لار نه ده ، دوی نوره د وسله وال مقاومت له لارې بریایتوب ته نه رسیږي. یا به د طالبانو جنګیالي همداسې په دې هیله اوتمه خپلې جګړې ته دوام ورکوي او فکر به کوي چې د دوی خوشباوره پوځي مشران حق په جانبه دي؟
یا به طلبان د سولې د ټینګښت، پخلاینې او روغې جوړې لپاره د حل یوه معقوله لار پرانیزي .ترڅو دوی له دې لارې خپلو مخوته ورسیږي.
آیا د افغانستان جګړه به دواړو خواو ته یوه ستړي ستومانه کوونکي تلپاتي ګرانه جګړه پاتي شي، دا هم دې پورې اړه لري، چې د اسلامي غورځنګ د مشرانو ترمنځ د سولې په اړه څه ډول پرمختګونه رامنځ ته کیږي. اصلي اختلاف د طالبانو د سیاسي او پوځي مشرانو ترمنځ دی، یوه ډله ابدي جهاد ته ادامه ورکول غواړي او د طالبانوبله ډله بیا سولې، وروغې جوړې او پخلاینې ته لیواله ده.
د جهاد د برخلیک په اړه اختلاف په لومړي پړاوکې باید د طالبانو د مشرانو ترمنځ حل شي. نور لوبغاړي تر ټولو د مخه د افغانستان او پاکستان حکومتونه کولې شي، د طالبانو پر خپلمنځي خبرو اترو باندې اغیز ورلري.
افغان طالبان د امریکامتحدوایالاتو د لس کلن پوځي یرغل څخه ژوندي پاتي شول او نن هم دوی د کابل حکومت لپاره یوستر ګواښ رامنځ ته کړي دی. طالبان په دې عقیده او تینګ باور دي، چې دا د دوی د پوځي مبارزو او سترو قربانیو پایله ده، چې دوی وکولې شول د افغانستان په ننني سیاسي نقشه کې د ځان ښودني ادعا وکړي. په افغانستان کې د طالبانو د ځان ښودني ادعا یواځې پوځي برخه کې نه ده، بلکې دوی په افغانستان کې په همدې ترتیب سره یوه سیاسي ښکارنده هم ګرځیدلې دي.
د افغان طالبانو غورځنګ تر اوسه یو فعال یوموتي خوځښت دی. په دوی کې تر اوسه کو م ستر انشعاب او یا د مشرانو ترمنځ ستر اختلافات نه دی را څرګند شوي. د اتګی د پاملرنې وړ دی، د شلوکالو را هیسې د افغانستان په سیاسي حالاتو کې د ډلو تپلو او د ډول ډول سیاسي فراکسیونونو ترمنځه خپلمنځي جګړو ته په کتو سره طالبانو وکولې شول خپل یووالي وساتي او د یو واحد سیاسي قیادت لاندې پاتي شوي دي. د دوی د وسله والې قوماندې څخه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د هیواد په ټولو ولایاتو کې اطاعت کیږي. د دې برسیره طالبانو یوه بیرو کراته اداره د ګڼ شمیر ځانګړو کمیسیونو سره هم رامنځ ته کړي. دغه کمیسیونه د بیلابیلو ځانګو لپاره رامنځ ته شوي دي. لکه د کلتوري چارو په برخه کې، دقضایي چارو په برخه کې، د بهر سره اړیکي رامنځ ته کولو په برخه کې، دبندیانو ځارنه او د جګړې له ملکي قربانیانو سره د همکاري په برخه کې. له همدې امله سړی کولی شي ووایي، چې په افغانستان کې نن د طالبانو غورځنګ یو خورا اغیزمن اورګانیزیشن دی.

د طالبانو مشرانو موخه لا تر اوسه همدا ده، چې ټول هیواد د اسلامي امارت تر حاکمیت اوچتر لاندې راولي.

د ۲۰۰۱ کال په پای کې کله چې طالبانو ماته وخوړله، دوی قسم یاد کړو، چې د افغانستان ځخه د ټولو نړیوالو ځواکونو تر وتلوپوري به جګړې ته ادامه ورکوي. که څه هم اوس د افغانستان ځخه د نړیوالوځواکونو ډیري برخې وتلي دي، طالبانو اوس دغه پیچلي کړکیچ لا نوره ستونزمن کړي دی. د طالبانو موخه دا ده او په دې فکر کې دي، چې دوی باید په ټول افغانستان کې د اسلامي امارت حاکمیت بیرته په پښو ودروي. دوی باید د افغانستان په حکومت کې د ټولو ځواکمنوځواګونو د پاسه یوځواکمن ځواک وګرځي او په افغانستان کې د اسلامي شریعت پربنیاد یو ټولنیز نظم بنسټ کیږدي. د دې افغاني اسلامي ټولنې مشر د دوی امیر ملا محمد عمر د ټولو افغانانو زعیم او مشر په توګه باید غوره شي.

طالبان ادعا لري، چې په کابل کې واکمن خلک د امریکایانو لاسپوڅي دي. دوی داسي انګیري، په کابل د ملي یووالي حکومت به ړنګیږي. که په دې برخه کې د ملي یووالي حکومت له طالبانو سره جوړ رانشي، د ملي یووالي حکومت بله کومه لاره او چاره هم نه لري. ځکه طالبان د هیواد ډیري برخې تر خپل کنټرول لاندې لري. هم مهاله طالبان په دغه سیمو کې د ملي یووالي حکومت سیاسي اداره او نظم هم رد وي.

د طالبانو پلویان د طالبانو مشرانو ته ډاډ ورکوي، چې د دوی پوځي بری حتمي دی. د ناټو ځواکونو د وتلو له پیل سره سم د کابل حکومت پوځونه سخت ځپل شوي دي او د افغان پوځ سرتیرو تیښتي ته مخه کړي ده.

افغان پوځ کې په زرګونه داسي ځوانان شته، چې دوی خپل ځانونه دې غورځنګ لپاره په اور کې اچوي. دغه ځوانان په ویاړ سره د خپل بریایتوب او مذهبي ژور احساس له مخې د اسلام لپاره جنګیږي.

د طالبانو بله ستونزه په دې کې هم نغښتي ده، د دوی د سترو پوځي بریالیتونو خبره سمه ونه ختله. د ۲۰۱۴ کال ځخه را په دې خوا د پوځي هځو سره سره دوی په دې ونه توانیدل، چې نورې سیمې لاندې کړي. دوی تر اوسه هیڅ کوم ستر اداري واحد یا ولسوالي له دولته نه ده نیولي. طالبانو ته به دا نیونې تر هغه ناشوني وي، تر څو چې د افغان حکومت پوځي، پولیسي او امنیتي ځواکونوته له بهره مالي مرستې ورکول کیږي. دغه امنیتي ځواکونه به تر هغه مات نشي، تر څو د دوی مالي مرستې له بهره ځخه تمویل کیږي او دوی به پرې نیږدې، چې طالبان په مرش مرش سره کابل ونیسي.

د طالبانو ستر پوځي بری به دا وي، دوی به وکولي شي د هیواد په کچه هغه سیموته چې ځوک نشي ورتلې، هغه سیمې به نوره پراخې کړي. دا هغه سیمې دي، چې مرکزي حکومت ورته هیڅ لارسي نه لري او یا له کنټروله وتلي سیمې دي. طالبان به په دغه سیمو کې افغان حکومت ته یوه موازي اداري رامنځ ته کړي.

کله چې د تیر کال دسپتمبر میاشت په ۲۹ مه نیټه ښاغلي محمد اشرف غني د افغانستان نوې ولسمشر د لوړې د مراسمو په وینا کې وویل، چې دی به ډیر ژر د طالبانو سره دسولې راوستو هڅې پیل کړي او هیله لري، چې طالبان په سیاسي سیستم کې ورګډ شي .آن عبدالله عبدالله په ملي یووالي حکومت کې د اشرف غني ملګري هم د طالبانو سره د پخلاینې او روغې جوړې خبرې وړکړې. که څه هم عبدالله د غني حکومت موخواو کړنلاړې ته د شک په سترګه ګوري.او ویږي چې دا ډول جوړجاړې د تکتیکي فکري مخکیتوب له امله تر سره کیږي او د عبدالله موقف به د حکومت په راتلونکي پریکړو کې کمزوري شي.

له شکه پرته د کابل حکومت دسولې په لور لومړنۍ ګام اخیستې دی، د غني حکومت د پاکستان سره د اړیکو ښه کولو نوی باب پرانستلو باندې بوخت دی.

ولسمشر غني د خپل یو ځانګړي ابتکارپه لاس کې اخیستلو سره او د ځواړخیزو ډیپلوماتیکو لارو له لارې غواړي خپلې موخې ته چې په افغانستان کې سوله ده، ورسیږي. غني نه یواځې د اسلام آباد سره د اړیکو نوی باب پرانیزي، بلکې دی غواړي، چې د اسلام اباد او طالبانو ترمنځ هم اړیکي رامنځ ته کړي.

ولسمشر غني په ویښه او جوته توګه پوهیږي، چې پاکستان د افغان طالبانو ځخه ډیره ناوړه ګټه اخلي او پاکستان غواړي په افغانستان کې خپله نیابتي جګړه همداسي پرمخ بوځي. ولسمشر غني په هغه صورت کې پاکستان ته د

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اقتصادي، امنيتي سياسي همکاريو وړانديز وکړ، چې دغه ګاونډي هيواد خپله نيابتي جګړه په افغانستان کې نوره ختمه کړي.
ولسمشر غني د خپل حکومت په لومړنيو مياشتوکي قصداً او په ارادي توګه د هند سره اړيکي او د جګپوړو چارواکو د ليدنو کنټنو څخه ډډه وکړه. اسلام آباد ته ډاډ ورکړل شو، چې په افغانستان کې د هغو جنګيالیو په وړاندې عملیات پيل کړي، کوم چې د افغانستان له خاورې د پاکستان پرضد جنګيږي.
اصلاً غني غوښتل پاکستاني استخباراتي چارواکي په دې وپوهوي، چې د تاسو ټولې مشروع غوښتنې او موخې کومې چې تاسو يې د طالبانو په مټ او مرسته تعقيبوي، کولې شي د کابل له حکومت سره د مستقيمو همکارۍ له لارې تر لاسه کړي.
په مقابل کې د غني حکومت د اسلام اباد څخه دا تمه لري،چې طالبان دې ته وهڅوي، جګړه ودروي ، ترڅو دی د طالبانو سره د خبرو اترو له لارې يو سياسي حل ته سره ورسيږي.
دکړکيچ د حواري دغه عالي فکر او منطقي طريقه د سولې راوستو په لاره کې له دې امله د پام وړده، ځکه دغه لار د طالبانو مشرانو په منځ کې د سولې په لور د خبرواترو او طالبانود پريکړو په بهير باندې مثبته اغيزه شيندي .
دلسوکالو راهيسې د طالبانومشران په دې باور دي، چې په افغانستان کې د دوی جګړيز فعاليتونه او وړتياووې دې پورې اړه لري،چې داسلام آباد واکمن دوی ته په پاکستان کې پټانځايونه، روزنځايونه او د شاتګ غونديځايونه برابر کړي او غوندې ساتلې دي.
کابل د خپل ويښ له هوښياري او دتعقل نه ډک سياسي چلند له لارې غواړي، طالبان په خپل باور او بنسټ کې ولړزوي او پاکستان کې د طالبانو د شاتګ خوندې ځايونه به نور د دوی په خدمت کې نه وي .
په داسي حال کې چې افغان حکومت د پاکستان سره د اړيکو په ښه کولو نوې باب باندې اخته دی. د غني حکومت د خپلې د سولې ستراتيجی نور عنصرونه لا نه دي را برسيره کړي. په کابل کې خوشبينه کتونکي په دې باور دي، چې له يوې خوا د پاکستان فشار او له بلې خوا د نوې حکومت د سولې په اړه مثبت زيګنالونه به دسولې خبرې اترې ډير ژر پيل کړي. له دې سره به د طالبانو پسرلنې عملياتو مخه ونيول شي. اما د طالبانو مشرتابه په ښکاره ډاډمن بريښي، چې دوی خپله نيکمرغي د جګړو په ډګر کې لټوي .طالبان د اسلام آباد لخوا تر فشار لاندې نيولو سره بيا هم په جدي ټوګه د سولې خبرواترو ته نه کيني.
اوس کابل مجبور دی، يو بله اوږدمهاله ستراتيژۍ ته وده ورکړي او ورسره پردې کار کوي، چې د يو بل ځای ځخه کار پيل وکړي. تر څو طالبان دې ته مجبوره کړي، د جګړې پرځای د سولې خبرو اترو را وګرځوي.
په دې ورستيو دريو کلنو کې د امريکامتحدو ايالاتوتجربې دابنيي، چې څه ډول چلند د يو داسي وسله وال غورځنګ لکه طالبان سره وشي، تر څو دغه غورځنګ له ننګونو او ګوابنونو سره مخامخ کړل شي. واشنګټن په دې لړ کې د قطر په هيواد کې له خپل اغيز څخه کار واخيست. قطريانو په قطر کې د طالبانو استازو ته د دفتر خلاصولو بلنه ورکړه. په قطر کې د طالبانو دفتر د دې لپاره رامنځ ته شو، تر څو دوی د خپل مشرتابه سره مستقيمې اړيکې وساتي. طالبانو قطر ته د خپلو سياسي چارو کميسيون ليږلي دی، دغه سياسي کميسيون په قطر کې د طالبانو د بهرنيوچارو وزارت په توګه وپيژندل شو. د ۲۰۱۴ کال په اوړي کې طالبانو د اسير امريکايي سرتيري تبادله کې په ګونتانامو کې د خپلو پنځو زنداني ملګري خوشي کيدو سره دا وښودله ،چې سړی کولې شي له دوی سره په جدي ټوګه مامعله وکړي. په قطر کې د طالبان د سياسي کميسيون غړي د خپل مشرتابه تر مستقيم امر او قوماندې لاندې دي، دوی دومره واک او جرآ ت نه لري، چې په افغانستان کې د طالبانو مشرتابه يو جوړ جاړې ته وهڅوي.
د کابل حکومت د سولې اوږد مهاله ستراتيجی د اسلام آباد جمع قطر فورموله باندې ولاړله ده. تمه دا ده، چې د اسلام آباد له لارې په قطر کې له طالبانو سره اړيکې وساتل شي .دغه نوې لار به د طالبانو په غورځنګ کې هغو سوله خوښوونکواو پرګماتيک يا واقعيتبينو طالبانو ته لاره خلاصه کړي،چې دوی سوله ييز حل غواړي. د کابل حکومت په زندانو کې له بندي طالبانو څخه هم دا تمه لري ،چې د خپلو طالب له مشرانو سره اړيکه ونيسي.
تراوسه زندانيان يواځې د تبادلې او يا تکتيکي برمته نيولو لپاره ستعماليدل. د بيلګې په ډول د افغانستان، پاکستان او د امريکامتحدو ايالاتو حکومتونو د طالب بنديانو خوشي کولو څخه موخه دا وه،چې د طالبانو له مشرتابه سره د اعتماد او باورفضا رامنځته شي. زندانيان ډير څه کولې شي، ځکه دوی د يوې برحقه مسئلې لپاره په زندان کې ناست دی. دوی په خپل غورځنګ کې يو ځانګړي ځای لري او په غورځنګ کې د درنښت وړ کسان شميرل کيږي. که سړی په دې بريالي شي، دوی ته په بنديخونه کې قناعت ورکړي. دوی په بنديخونو کې د سولې پر ځواکمنو مدافع وکيلانو باندې اوښتې شي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دغه بيلګه په شمالي آيرلنډکي پلي شوي ده، د آيرلنډ آزادي غوښتونکو غورځنګ ځيني پخواني مخور زندانيان د آيرلنډ د وسله وال مقاومت غړي وو، دوی وکولي شول، د شمالي آيرلنډ مخالف پت غورځنګ مشران سولې ته ورمات کړي.
په افغانستان کې هم ډيراحتمال لري، چې د سولې نوې ستراتيجۍ د طالبانو دځينو ځانګړو کړي له لارې چې په بنديخونو کې ناستي دي، د سولې دغه لار بريالیتوب ته ورسيوي.

چين د يو منځګړي په رول کې

د افغان حکومت د سولې هڅو لپاره کيداي شي يوبل نوښت هم مهم پريوځي: د افغانانو د سولې په نوښت کې د يو فعال منځګړي ملګري په توګه د چين هيواد را ختل دي. چين په افغانستان کې خپلې اوږد مهاله اقتصادي ليوالتياووې لري. د وخت او زمان خبره وه، چې پيکنګ به کله د افغانستان د سولې او ثبات د راوستوپه هڅوکې ورګډيږي. چين هم د افغانستان لپاره خپل يو ځانګړي استازی نومولي دی. چين ولسمشر محمد اشرف غني او د طالبانو استازی قاری دين محمد ته په خپل هيواد کې هرکلی او ښه راغلاست وويلي دي.
د چينايانو په منځګړتوب کې يوه ځانګړي خبره او اصلي مانا په دي کې وه، چې دوی مخکې له مخکې د سولې د خبرواترو په برخه کې د کابل او واشنګټن له حکومتونو سره سلا مشوری کړي وي. چينايانو غوښتل، دسولې خبرواترو بهير بايد رون وساتل شي او ورسره په خبرو اترو کې د څو لوبغاړو يا منځګړو د برخې اخيستنې له امله دګډوډيو رامنځته کيدوګواښ کچه راټيټه شي او طالبانوته به موقعه برابره نشي، تر څو يو منځګړي د بل منځګړي په وړاندې استعمال کړي، د دې ټولو مقدماتي تدابير نيولو سره سره داسي هم نه انګيرل کيده، چې ګني طالبان به د چينايانو د منځګړتوب وړاندیزونه سمدستي ومني او يا د طالبانو دسولې يا دجګړې پر الترنتيف يا فکرونو باندې کومه اغيزه ولرلې شي .
چينايي ميلمه پالانو ته دسولې په مذاکراتو کې هغه مهال ديو بې پرې منځګړي چانس موندل کيداي شي، چې کله سوله خوښوونکې او خير غوښتونکې طالب مشران ژر تر ژره خپل سر را پورته کړي.

د طالبانواصلي غوښتنې

د افغان طالبانو له خوا چې تر اوسه د کومو غوښتنو او موخو اعظمي ليست وړاندې شوي دی ،هغه ډير اوږد او ډير بې جرأته کونکي دی. طالبان د خپلو غوښتنو له لارې د افغانستان د دولت ټولې چارې لاسته راوړل غواړي. دا غوښتنې به هيڅ صورت يوې افغاني ډلې ته د خبرواترو د بنسټ او يا دسوييزحل لارې د لټولو د فورمولې په څير د منلونه دي.
که څه هم طالبانو ته ځيني مسايل او موضوعات ځښت ډير مهم دي. افغان حکومت کولې شي په ډيرو برخو کې طالبانو ته تر يوه حده ورتير شي. بې له دې چې هغو ډلو ټپلو ته زيان ورسيږي کومې، چې د کابل په اوسنې سياسي سيسټم او حکومت کې ډير ه پانګونه کړي ده .
که د غني حکومت طالبانو ته پردې موضوعاتو باندې د خبرواترو د چمتووالۍ زيګنالونه ورکړي. کيدای شي د طالبانو په سنجشونو او پلانونو باندې ورو ورو اغيزه وشيندي .
که چيرې بيا هم د طالبانو مشران د سوله ييز حل او د خبرواترو لاره رد وي، دوی به د ولسي خلکو له اعتراضونو ، مخالفتونو او نيوکو سره مخامخ شي او د طالبانو مشرتابه دا بايد ومني، چې دوی د خپلو طالب ملګرو له ارمانو او قربانيوسره خيانت کوي او د طالبانو مشران به د خپلو طالب ملګرو لخوا د خيانت په تور تور ن شي .
د طالبانو ارمانونه، غوښتنې او ليوالتياوې د افغان دولت له جوړښت سره ډير لږ تړاو لري .د طالبانو غوښتنې او موخې تر ډيره بريده په دولت کې له سمبولونو اود دولت له مشروعيت سره تړاو لري دي .
او بالاخره دطالبانو دا غوښتنې د طالبانو د پلويانو د ورځيني ژوند له غوښتنو سره تړو لري.
د طالبانو ټولې بنسټيزې غوښتنې او ليوالتياووې په اتو ټکو باندې تمرکز لري او په لاندې ډول راټوليدالي شي.
د طالبانو مشروع غوښتنې او پوښتنې په دې ډول سره پيل کيږي، د افغانستان په اسلامي دولت کې داسلام د سپيڅلي دين او شريعت مسئله، د شهيدانو په اړه د افغانستان اسلامي دولت دريځ مسئله، د اسلامي دولت د امير يا مشر د مشروعيت .مسئله، د بهرنيو پوځونو د شتون او د وتلو مسئله،د مجاهدينو سره د چل چلنداو د دوی د ورځنې ژوند د اړتياوو مسئله، دبنديانو دتبدلي مسئله، د طالبانو د عزت خوندې ساتلو اوطالبانو ته د درنښت مسئله او ورستي موضوع په دولتي واک کې د طالبانو ګډون او شريکولومسئله ده.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د طالبانو د مشرتابه د مشروعيت مسئله او د طالبانو مشروع ادعا پردي بنسټ باندې ځرخيزي، چې. مشر ملامحمد عمر د طالبانو د غورځنګ بنسټ ايښودونکي او امير دی، طالبان غواړي د خپل زعيم تر قيادت لاندې په افغانستان کې يو ځواکمن اسلامي نظام رامنځ ته کړي او دپردي پوځونواشغال ته خاتمه ورکړي . کله چې سړی د طالبانو له جنګيالیو سره د جګړو په ډګر کې خبري کوي، دوی تل خپلو شهيدانو ته اشاره کوي او هڅه کوي ثابته کړي، چې دوی ولې تراوسه جنګيږي. د جنګ جګړو ځخه ژوندي پاتې شوی طالبان وايي، دوی د دومره ډير وژل شويوطالب جنګيالیو د قربانيو عزت او ارمانونوپوره کولو پور وړي دي. که مور د حل يوه لاره لټوو،بايد داسي يوه لار وي، چې په هغه کې د طالبانو ځخه ښنه او د طالبانو د شهيدانو درنښت په کې خوندي شوي وي .افغان دولت بايد د طالبان د شهيدانو د عزت او درنښت پرځای کولو لپاره يوه معقوله لاره و لټوي .

که دکابل حکومت په ريښتوني ټوګه طالبان سولې ته راماتول غواړي، دوی بايد ثابته کړي،چې دوی دغو سمبوليکو کليدي موضوعاتو ته ځښت ډير اهميت او درنښت ورته لري. حکومت مجبور دی دې ورته سمبوليکو کليدي موضوعاتوته ځښته ډيره پاملرنه وکړي.

دا يوه ښکاره خبر ده،چې د ټولو غوښتنو، موضوعاتو او مسايلو په اړه يو هر اړخيځ جامع ترون او يوهراړخيځ حل ته اړتيا شته. د بيلګې په ټوګه مور بايد دا ومنو او اقرار هم وکړو، چې په دې اوسني موده کې د افغانستان ځخه د بهرنيو ځواکونو وتل د طالبانو دمقاومت، زور،سرښندنې او قربانيو په برکت تر سره کيږي. طالبان کولې شي خپل دغه ستر بريالیتوب په وياړ سره ولمانځي .

که د طالبانو اصلي غوښتنو ته غور شو او وربانديې ښه غور وشي او ومنل شي، دا غوښتنې به هيڅ صورت دومره پيچلي او ګراني نه ثابتيږي .د جګړې په پای کې د ملي پخلاينې له لارې هسې هم بايد بنديان خوشي کړل شي. همداسې د طالبانو جنګيالي بايد دتکليفولو ، زورولول ، بدرد ويلو ځخه وساتل شي. د دوی پرمخ بايد يوه لاره خلاصه شي، ترڅو دوی خپل نورمال ژوند ته بيرته راوګرځي.

په طالبانوکې احترام يا درناوي او په درنه سترګه کتل يوه مهمه حياتي موضوع ده. په دوی کې تر ټولو مهمه خبر دا ده، چې دوی ته په ټيټه سترګه بايدونه کتل شي او د خپلو سيالانوته، سياسي مخالفينو ته احتياج او محتاج بايد هم نه وي .

د سولې خبرواترو په پای کې د افغان په حکومت کې د طالبانو د ګډون فورموله کيدای شي په دې ډول وي . طالبانو ته بايد په کافي اندازه واکونونه او صلاحيتونه ورکړل شي، تر څو دوی دخپلو پلويانو د تعقيبلو او رټلو ساتنه وکړي شي . دوی ته د دولت په اداري سيستم کې برخه او د دوی پرمخ د دولت مالي خزاني لاره خلاصه شي . د طالبانو واک او اغيزه بايد دومره هم نشي، چې د موجود دولتي ځواک بلانس لمنځه يوسي او د ملي يووالي حکومت حاکميت په بنسټ کې ونه لرځوي.

د افغانستان د سولې او پخلاينې پيچلي او کړکيچن بهيرته په کتو سره د بريالیتوب چانس ډير لږ ليدل کيږي. سړی بايد په ريښتيا سره دغه پوښتنه هم له ځانه سره وکړي، چې آيا د طالبانواو د کابل حکومت ترمنځ جوړجاړې دومره مهم دی، چې سړی په دغه لاره کې دومره ډير زحمتونه او خواري وباسي .

هو، يقيناً د افغانستان د سولې لپاره دغه زحمتونه ځښته ډير مهم دي . که د افغانستان کړکيچ پای ته ونه رسيږي او د امريکامتحده ايالات خپلې پوځي مرستې د کابل پرحکومت بندې کړي . افغان دولت په خپل ننني جوړښت کې نشي پاتې کيدلې .کله چې طالبان او د دوی نورجهادي متحدين خپل جګړيزو عمليات په سيمه کې پراخه کړي اوپرته له دې چې طالبانو د نوروافغاني ډلو سره د پخلاينې او روغې جوړې ته را تم شي، په پای کې بيا د پاکستان وار دي، چې بلکل به بې ثباته شي .

اصلي پوښتنه دا ده،چې افغانستان د سولې په لور حرکت کوي او که د ګډوډيو او بربادیو په لور، دغه موضوع اوس په اسيا کې ځښته ډيره مهمه شوي ده. د جنګيالیو ډله ډله تګ راتګ او د دوی د فکرونوتر منځه اړيکې، دافغانستان کړکيچ ترمنځ اودسوريې او عراق له ناورينونوډک پرمختګونو ترمنځه اړيکې، د ليبيا او يمن ترمنځ رامنځته شوي اړيکې دا ټول د افغانستان د سولې سره نيغ په نيغه تړاو لري.

اما دافغانستان کړکيچ د نورو وسله والوکړکيچونو په پر تله يو ځانګړي توپيرلري، ځکه دا کړکيچ په دا دومره کلنو کې يواځيني نړيوال اوږد کړکيچ دی، چې د پرليسي ګرانو پوځي پرغلونوله امله رامنځ ته شوي دی . که بيا هم د سولې او پخلاينې بهير ته د دومره نړيوالو اوږدمهالو هڅو سره سره زيان ورسيږي . سختدريځي ډلې، چې د کولتوري جګړو خوب او خيال په سر کې لري، وزر و وموميِ .

پای

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ